اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د شراب تباهیانی

- شراب نَجِس (ناپاکه) او شیطانی کار دے، د دی نه بچ کیدل فلاح او د کامیابئ عَلامت [یعنی نښه] ده (اَلمَآئِدَه مُلَخَّصاً)
- شراب د خلقو په مینځ کښ بُغض او عداوت [یعنی دُشمنی] پیداکوی او د الله عَزَّوَجَلَّ د ذکر نه منع کول کوی.

(اَلمَآئِدَه: مُلَخَّصاً)

**5 فرامینِ مُصطفٰے** صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **(1)** هر نشه راوستو والا شے شراب دی او هر شراب حرام دی (مُسلِم، ص 1109 الحدیث،2003) **(2)** الله عَزَّوَجَلَّ په شرابو، د دی په نچوړولو والا او د چا د پاره چه نچوړ شی په هغه،په څښکلو والا او په چا د څښکلو والابانڈِ، راوړلو والا او د چا د پاره چه راوړل شی په هغه بانڈِ، خرڅولو والا او اغستو والا بانڈِ او د دی قیِمت یعنی ګټه خوړلو والا په ټولوکسانو بانڈِ لَعنت فرمائیلے دے. (المستدرک 199/5 الحدیث 7310) **(3)** شراب دیوال ته اوولئ ځکه چه د اد هٰغه کس مشرُوب دے څوک چه په الله عَزَّوَجَلَّ او د آخرت [یعنی د قیامت] په ورځ ایمان نه لری. (حِلیَةُ الاَولِیاء، 159/6 اَلحَدِیث 8148 ) **(4)** شرابی چه کله شراب څښکی نو هٰغه وخت هغه مُؤمِن نه وی. (مُسلِم، ص 48، الحدیث 57) **(5)** شراب د ټولو نه غټه ګناه او د ټولو بدو جرړه ده، شراب څښکلو والا مونځ پریږدی او (ځینی وخت) د خپلی مور، ترور[یعنی د مورخور] او[د بل طرف] ترور[یعنی د پلارخور] سره هم د بدکارئ مُرتکب کیږی. (مَجمَعُ الزَّوائِد، 104/5 اَلحَدیث8174، مفهُوماً )

**د شراب 21 نُقصانات:** د شرابو په وجه د انسان خپل اخلاق خو تباه کیږی تباه کیږی، ورسره ورسره په معاشره بانڈِ هم د دی ډیرغلط اثرات پریوزی: د شرابو په وجه د جرائِم [یعنی د نورو غلطو کارونو] شرح د حد نه زیاته شی: شرابی خپل او پردے نه پیژنی: د شرابی ښځی او خاوند په بچو بانڈِ غلط اثرات پریوزی: شراب د بنده په عقل کښ فساد اچوی: شراب مال ضائِع کوی او بربادوی او د غُربت سبب جوړیږی: شراب د روټئ د خوند او د صحیح خبرو کولو نه محروموِل کوی: شراب د هرے بدئ کُنجی ده او دا شرابی په ډیرو ګناهونو کښ اخته کوی: شرابِ شرابی د بد کاره خلقو مجلِس ته بوځی، شراب په خپله بد بوئ بانڈِ د هغه [یعنی د شرابی] کاتِبِ ملائِکو [یعنی کِراماً کاتِبِین] ته تکلیف ورکوی: دا [شراب] په شرابی بانڈِ د آسما نونو دروازے بندوی، د څلویښتو ورځو پوری نه د هغه څه عمل قبلیږی او نه دُعا: دا د شرابی ځان او ایمان په خطره کښ اچوی، ځکه ئی د مرګ په وخت کښ د ایمان د بربادیدو خطره وی: په شروع کښ خو د انسان بدن د شرابو د نقصاناتو مقابله اوکړی او شرابی ته خوندور کیفیَت محسوسیږی خو ډیرزرداخِلی (یعنی د جِسم اندرونی) قُوَّتِ برداشت ختم شی او بیا د دی مُستقِل مُضِر اثرات پریوتل شروع شی مَثَلاً» د شرابو د ټولو نه زیات اثر په ځیګر پریوځی او هغه اوچیدل شروع شی» په ګُردو[یعنی پِښتوَرګو] فالتو بوج پریوزی هغه کمزوری شی او آخِربیکاره شی» د شراب زیات استعمال دِماغ پرسوی» په اعصابو کښ پرسوب پیدا شی او نتیجتاً اعصاب کمزوری او بیا تباه شی» په معده کښ پرسوب پیدا کیږی» هډوکی نرم اوډیر زیات کمزوری شی» شراب په بدن کښ موجود د وِټامِنزذخِیرے تباه کوی، وِټامِن B او C بِالخصوص د دی د تباهئ نښه جوړیږی» که د شرابو سره د تَمَکو نشه ملګری شی نو د دی نقصانات په څو چنده زیات شی او د هائ بلڈ پریشر، سټروک او د هارټ اټیک ډیره زیاته خطره پیدا شی» په کثرت سره د شرابو د نشی سره بنده په سالنډی،سر درد، زړه ډکیدو [یعنی اُلتئ محسوسیدلو] او د تندے په زیا ت والی کښ مُبتلا کیږی» اکثراوقات د نشی د زیاتوالی په وجه د زړه حَرَکت او د ساه اغستو عمل اودریږی او فوراً مرګ واقع کیدے شی.

**د شرابی په دُنیا کښ سزا»** د شرابو نشه کول، په شرابی بانڈِ 80 کوړے واجِب کوی، لِهٰذا که هغه په دنیا کښ د د ی سزا نه بچ هم شی نوپه آخِرت کښ به د مخلوق په مخکښ هغه په کوړو وهل شی.

**د شرابی په قبر کښ سزا»** په قبر کښ د شرابی مخ د قبلے نه اوړی (اَلْکَبَائِر، شرب الخمر، ص 96) په هغه بانڈِ دوه ماران مُسلّط کړے شی چه هغه د ده غوښی په شوکولو شوکولو خوری (شرحُ الصُّدور ص 172 )

**د شرابی په آخِرت کښ سزا»** شرابی به د قیامت په ورځ په داسی حال کښ راځی چه د هغه مخ به توروی او ژبه به ئی په سینه رازوړنده وی،لاړی به ترِرابهیږی او هر د لیدو والا به د هغه نه نفرت کوی (اَلکَامِل فِی ضعفاء الرجال،502/2)» د اُور په سُولی به رازوړندولے شی، چه تکے کیږی نو کله به پرِ بد بوداره خوَله څښکله شی او کله به پرِخوټکیدلی اوبه څښکلی شی، د خوراک د پاره به ئی ازغی لرونکی اونی وی، د اُورد څپلو په ښپو کولو په وجه به ئی دِماغ په خوټکیدوشی تردی چه دځلی او د پوزے په لار به ترِ اوبهیږی» شرابی به په جهنَم کښ د فرعون او د هامان ګاونډی وی. (نیکیوں کی جزائیں اور گناھوں کی سزائیں ص22 تا 31 مُلَخَّصاً)

**د شرابو او نورو ګناهونو نه بچ کیدواو د سنّتو نه ډک ژوند تیرولو د پاره د دعوتِ اِسلامی مدنی ماحول سره تړون اوکړئ.**